# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## ریاست اطلاعات و ارتباط عامه

# بولتن خبری

# News Bulletin

**20 ثور _سال 1401**


اخبار مهم
افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان صفحه

متن کامل اخبار ---------- 4
بیش از هزار مهاجرافغان ازایران به وطن برگشت نمود---------- 4
موسسه آلمان برای کودکان افغان، ۴۰۰ خانواده را در ولسوالی سروبی ولایت کابل کمک کرد---------- 4
برای بیش از پنج‌هزار نفر در چهار ولایت مواد خوراکی توزیع شد.---------- 5
کډوال په برېتانیا کې: «د راتلونکي په اړه فکر هم نه شو کولی« ---------- 6
ایران فشار ها بر مهاجرین افغان را افزایش داده است ---------- 10
اژه سمندر کې د ماشومانو په ګډون تر ۱۰۰ ډېر کډوال ژغورل شوي ---------- 12

# متن کامل اخبار

## بیش از هزار مهاجرافغان ازایران به وطن برگشت نمود

ویب سایت وزارت




به اساس گزارش آمریت امورمهاجرین نیمروز یک هزارو 489 نفر مهاجر، به تاریخ 18 ثور طور اجباری و داوطلبانه ازایران به وطن برگشت نموده اند.

از میان افراد مذکور 49 خانواده، شامل178 تن و 925 تن دیگرافراد مجرد بودند که طور اجباری و2 خانواده شامل 12 تن و374 تن مجرد بصورت داوطلب واردکشور شده اند.

به گفته منبع ازآن میان،50 خانواده شامل 89 مرد و96 زن وهمچنان 454 تن مجرد راغرض دریافت کمک، به دفترIOM معرفی شدند.

## موسسه آلمان برای کودکان افغان، ۴۰۰ خانواده را در ولسوالی سروبی ولایت کابل کمک کرد

ویب سایت وزارت



برای ۴۰۰ فامیل بی بضاعت روز دوشنبه ۱۹ ثور از سوی موسسه ی آلمان برای کودکان افغان در هماهنگی با ریاست امور مهاجرین ولایت کابل مساعدت گردید.

محمد عالم شهاب ریس آن موسسه گفت: که چهار صد خانواده نادار را در ولسوالی سروبی تحت پوشش کمک های بشردوستانه خویش قرار دادند .

شهاب گفت،که این کمک‌ها تحفه عیدی بوده،که شامل آرد،روغن،برنج،شکر،چای و لوبیا می باشد،این موسسه تا فعلا هزاران خانواده نادار را در هماهنگی با ریاست امور مهاجرین ولایت کابل در مرکز و ولایات تحت پوشش کمک های انسان دوستانه خویش قرار داده است.

مولوی عبدالمتین رحیمزی ریس امور مهاجرین ولایت کابل ضمن قدردانی از مؤسسه مذکور و سایر نهادهای کمک کننده گفت : در تمام نواحی و ولسوالی های کابل سروی جریان دارد، تلاش جریان دارد تا خانواده های نیازمند بعد از سروی شناسایی شده و عنقریب برای شان کمک صورت خواهد گرفت.

## برای بیش از پنج‌هزار نفر در چهار ولایت مواد خوراکی توزیع شد.

رادیو آزادی




عکس آرشیف: توزیع کمک های بشر دوستانه به مردم در افغانستان

**برنامه جهانی غذا ، از دوام کمک ها به هزاران خانوادۀ نیازمند در ولایت های نورستان، کابل، غزنی و سرپل خبر می دهد.**
**دبلیو اف پی در پیامی گفته است که در این ولایت ها به بیش از پنج و نیم هزار خانواده کمک شده است.**

**ساین سازمان جهانی شماری مردمان نیازمند به کمک بشردوستانه در افغانستان را ۲۳ میلیون نفر تخمین کرده است.**

## کډوال په برېتانیا کې: «د راتلونکي په اړه فکر هم نه شو کولی»

مهاجر نیوز

**هغه کډوال چې له خطرناکو لارو او د ډېرو سختیو له ګاللو وروسته توانېدلي برېتانیا ته ځان ورسوي، دوي په دغه هیواد کې د مهاجرت له سخت او غیرانساني سیستم سره مخ دي .ډېری وختونه یاد پناه غوښتونکي د برېتانیا بېلابېلو هوټلونو ته لېږدول کېږي، خو برخلیک یې نه دی معلوم. راپور.**

**پنځه وېشت کلن افغان کډوال عصمت الله فطرت د لندن هوایي ډګر هېثرو ته څېرمه په یوه هوټل کې اوسېږي. دغه هوټل چې هالیډې ان نومېږي په اصل کې د سیلانیانو لپاره جوړ شوی و، خو اوس یې دولت ضبط کړی او هغو کډوالو ته یې ځانګړی کړی دی چې د انګلیس کانال له لارې ځانونه برېتانیا ته رسوي.**

په دغه هوټل کې سلګونه کډوال چې ډېری یې افغانان او ایرانیان دي په نامعلوم حالت کې شپې سبا کوي. عصمت الله فطرت وایي: «موږ یې د نومبر پر ۲۰مه دلته انتقال کړو .خو موږ نه پوهېدو چې څومره وخت به دلته پاتې کېږو. اوس پنځه میاشتې کېږي چې دغه هوټل کې یو».

عصمت الله یو له هغو ۲۸۰۰۰ کسانو دی چې په ۲۰۲۱ کې یې د انګلیس کانال له لارې ځان برېتانیا ته رسولی دی. هغه چې انګلیسي ژبه یې زده ده د نومبر له ۳ راهیسې برېتانیا کې په یو نامعلوم حالت کې بند پاتې دی.

پناه غوښتونکي برېتانیا ته له رسېدو سره مختلفو ځایونو لکه دوور کې د کډوالو د ثبت مرکز، د منستن استوګنځي، د ناپیر استوګنځي او بېلابېلو توقیف ځایونو ته لیږدول کېږي. همدارنګه دغه هیواد کې ۲۰۰ هوټلونه پناه غوښتونکو ته ځانګړي شوي دي. یاد هوټلونه د غیر رسمي کمپونو د جوړېدو مخه نیسي، خو د مهاجرو وضعیت پکې ډېر پیچلی دی.

د کېنټ د رفیوجي اکشن نټورک سازمان غړې بریجېټ چیمن وایي چې کډوال په منظمه توګه له یو ځایه بل ځای ته استول کېږي، خو دوی نه پوهېږي چې ولې. په وینا یې ځینې کسان چې کېنټ ساحل ته رسېدلي لندن ته لیږدول کېږي، خو څو اونۍ وروسته بېرته د کېنټ ښار استوګنځیو ته ستنول کېږي.

ویشت کلن صدیق وایي چې هالیډې ان ته تر انتقالېدو مخکې توقیف ځای کې بند و. انځور: کډوال نیوز

ویشت کلن صادق یو بل افغان کډوال دی. نوموړی وایي چې څه موده مخکې یې د هېثرو هوایي ډګر د ترمینال ۵ مخې ته په یوه توقیف ځای کې ژوند کاوه. یوه شپه ناوخته چارواکي راغلل او ورته یې وویل چې یو بل ځای ته یې انتقالوي. هغه وایي: «نه پوهېدم چې چېرته. د خپلو ټولو وسایلو د راټولو لپاره مې کافي وخت نه درلود.» دغه شپه چارواکو هغه هالډې ان ته انتقال کړی و.

د بشري حقونو شبکې بنسټګره مادي هاریس وایي: «ولې دوی خلک له یو ځایه بل ځای ته انتقالوي؟ نه پوهېږو چې ولې. دغه پروسه ډېره پیچلې ده. د لومړیو ورځو په جریان کې کډوال معلوماتو او حقوقي مرستو ته لاسرسی نه لري. موږ چې مرستندویه سازمانونه یو موږ هم کډوالو ته لاسرسی نه لرو«.

د عیني شاهدانو په حواله ډېری وختونه د هغو کډوالو موبایلونه ضبطېږي چې د انګلیس کانال له لارې برېتانیا ته رسېږي.

»موږ په یوه هنګر کې پر ځمکه خوب کاوه«

کډوال برېتانیا ته د رسېدو په لومړیو ورځو کې سازمانونو ته لاسرسی نه لري. صادق چې تېر کال یې برېتانیا ته د اوښتو لپاره ۱۵ ساعتونه په یوه بېړۍ کې تېر کړي وایي چې د دوور د کډوالو د ثبت مرکز یو هنګر دی چې کډوال پکې پر ځمکه خوب کوي.



دوور کې د کډوالو د ثبت مرکز. انځور: کډوال نیوز

بریجیت چیمن بیا د عیني شاهدانو له قوله وایي هلته کډوال له ډېرو ستونزو سره مخ دي او هغه کسان چې ټپیان دي درملنه یې نه کېږي.

د نوموړې په حواله یاد مرکز ته د نه لاسرسي هدف دا دی چې چارواکي نه غواړي څوک د کډوالو د ژوند د شرایطو په هکله اطلاع ترلاسه کړي. هغه زیاتوي چې د معلوماتو د نه لرلو له امله دوی د دولت پر اقداماتو نیوکه نه شي کولی. دغه فعاله وایي چې چارواکي د کډوالو سره «دښمني» لري. په وینا یې: «لږ مخکې مو مرکز ته لاسرسی درلود. هلته وضعیت ټکان ورکوونکی و. هوا ډېره یخه وه. موږ یې په اړه له رسنیو سره خبرې وکړې. له هماغه وخت راهیسې ناپیر ته هم لاسرسی نه لرو«.

ناپیر یوه پخوانۍ نظامي اډه ده. په ۲۰۲۱ کې د لندن سترې محکمې دغه ځای کې د ژوند شرایط «غیرقانوني» وبلل. خو د تړل کېدو حکم یې صادر و نه کړ.

بریجیت چیمن وایي: «له خلکو سره داسې چلند کول غیرانساني دي. خو [چارواکي دا خبره نه مني چې] د اروپایي ټولنې له وتو سره موږ کارګرو ته اړتیا لرو«.



ناپیر مرکز چې یوه پخوانۍ نظامي اډه ده کډوالو ته ځانګړې شوې. انځور: کډوال نیوز

**د معلوماتو نشتوالی**

عصمت الله فطرت وايي چې له قانون سره بلدتیا نه لري. هغه د فورمونو د ډکولو لپاره له ستونزو سره مخ دي. نوموړی لږ مخکې خبر ترلاسه کړی و چې حق لري له دفاع وکیل څخه د مرستې غوښتنه وکړي. خو په وینا یې څوک کډوالو ته په دې اړه معلومات نه ورکوي.

هغه کسان چې تازه برېتانیا ته رسیږي له نورو څخه اوري چې له مهاجرو سره د مرستې سازمان ورسره مرسته کولی شي. عصمت الله فطرت وايي: «هغه کډوال چې تر ما وړاندې دغه هوټل کې اوسېدل دوی ما ته وویل چې داسې یو سازمان شته. چارواکي یې په اړه چا ته معلومات نه ورکوي. زه هم په خپل وار سره نورو ته وایم چې دلته داسې یو سازمان شته«.

د مهاجرو د وضعیت په هکله هم ګنګوسې ډېرې اورېدل کېږي. عصمت الله وايي: «ځینې کسان موږ ته وايي چې دولت موږ اخراجوي. ځینې نور بیا وايي چې د قبولۍ د ترلاسه کولو لپاره باید ۱۵ کاله انتظار وباسو. نه پوهېږو چې برخلیک به مو څنګه شي .موږ د راتلونکي په اړه فکر هم نه شو کولی«.

## ایران فشار ها بر مهاجرین افغان را افزایش داده است

رادیو آزادی




**برخی از مهاجران افغان که تازه از ایران اخراج شده اند, میگویند که حکومت ایران فشار ها را بر مهاجرین افزایش داده است .**

**مطیع الله با همسر و سه کودکش می گوید که پس از تحمل شکنجه و بدرفتاری نظامیان ایرانی به تازگی از ایران اخراج شده است.**

**این مرد ۲۵ ساله پنج ماه پیش برای فرار از بیکاری و ترس از اقدام های سختگیرانه طالبان با خانواده اش از راه های قاچاقی از طریق ولایت نیمروز به ایران رفته بود.**

**مطیع الله به رادیو آزادی می گوید که پولیس ایران او را هنگام کار در ساختمانی در تهران بازداشت و همراه خانواده اش رد مرز کرد. او افزود که نظامیان ایرانی حتی او را نگذاشتند که دستمزد یک ماهه اش را از صاحب کارش بگیرد.**

**او می گوید که با خانواده اش چهارده روز در قید پولیس ایران بود تا این که از طریق مرز اسلام قلعه اخراج و به هرات آمده است. او سختی های آن روزها را اینگونه حکایت میکند:**

**مهاجرینی که توسط نیروهای ایرانی بازداشت می شوند, به مواد غذایی دسترسی ندارند**

"داخل اردوگاه که ما را بردند بسیار کثیف بود و به سر ما افغان ها آشغال ها را جمع می کردند. داخل سالن که ما را بردند صد تا دوصد نفر جای می شدند، اما بیش از یک هزار تا یک و نیم هزار نفر از ما را به آنجا بردند .سالن بسیار شلوغ بود، خانواده ها و مجردها همه یکجا بودند. همه ما پیر و جوان را هردم بیرون می کردند و فحش می دادند". افسانه ۲۳ ساله همسر مطیع الله در هر قدم سختی ها و چالش ها همراه همسرش بوده است.

مطیع الله و افسانه یک دختر پنج ساله و دو پسر سه ساله و دو ساله دارند.

او می گوید که در چهارده شبانه روز در زندان, کودکانش غذایی کافی نداشتند.

به تاریخ ۲۳ اپریل هنگام مخالفت نیروهای مرزی ایران با ساخت یک جاده در نقطه صفری مرزی از سوی طالبان، نیروهای دو طرف برای چند روز به حالت آماده باش نظامی درآمدند و مرز اسلام قلعه برای دو روز مسدود شد.

محمد قاسم ۳۵ ساله باشنده ولایت غزنی هم به تازگی از ایران اخراج شده است.

او از هرات به رادیو آزادی توضیحات بیشتری داد:" از وقتی که میان امارت اسلامی و ایران در مرز جنگ شد، بعضی از ایرانیان رفتار بد داشتند همراه افغان ها. وقتی که می دیدند که افغانی است لت و کوب می کردند و این موارد را من در شمال ایران دیدم. افغان ها وقتی که به نانوایی ها می رفتند برخی از ایرانی ها مزاحمت می کردند".



Shahpoor Sabir (RFE/RL)

بر اساس گزاش‌ها, ایران هر روز صدها مهاجر افغان را بازداشت کرده و دوباره به افغانستان می‌فرستد

بر بنیاد آمار ریاست امور مهاجرین و عودت کننده گان حکومت محلی طالبان در ولایت هرات، روزانه بیشتر از یک هزار و پنجصد مهاجر افغان از ایران اخراج و از طریق مرز اسلام قلعه وارد افغانستان می شوند.

عبدالحی منیب رئیس این اداره می گوید که در این اواخر اخراج مهاجران افغان از ایران تا ده درصد افزایش یافته است.

با مهاجرین رفتار نادرست در ایران صورت می گیرد. برخی ها حتی با دست ها و پا های شکسته به کشور برکشتانده میشوند

او در باره وضعیت شکننده مهاجرین افغان در ایران می گوید:

مهاجرین افغان را در ایران مجبور به عودت می کردند، برخی ها با دست ها و پاهای شکسته از ایران به افغانستان میامدند و کسانی میامدند که آنها را با مرمی زده بودند و ما شاهد استیم که برخی ها را با مرمی زده بودند و به شهادت رسانده بودند. ظلمی که در برابر مهاجرین افغان در ایران می شد قابل آن نبود که افغان ها آن را تحمل کنند".

به گزارش خبرگزاری اسوشتیدپرس، از هنگام برگشت طالبان به قدرت در نزدیک نه ماه گذشته، ایران اخراج مهاجران افغان را افزایش داده و هشدار داده که اقتصادش تحت تحریم امریکا است و بنا بر این نمی تواند که از عهده رسیدگی به مهاجران افغان برآید.

حکومت ایران گفته است که در هشت ماه گذشته حدود یک میلیون افغان به این کشور مهاجر شده اند.

در این حال، به اساس گزارش اسوشیتدپرس، بیش از ۲۵۰ هزار افغان در جریان امسال از ایران برگردانده شده اند.

## اژه سمندر کي د ماشومانو په ګډون تر ۱۰۰ ډېر کډوال ژغورل شوي

مهاجر نیوز

د یونان پوله ساتونکو پرون یکشنبه اژه سمندر کي تر ۱۰۰ ډېر کډوال ژغورلي دي چي په ډله کي يې زيات شمېر ماشومان هم دي. چارواکو په یوه خبرپاڼه کي ویلي چي پېښه کي چا ته زیان نه دی رسېدلی.

یوناني پوله ساتونکو د یکشنبې په ورځ د می میاشتي ۸ د ګنو ماشومانو په ګډون ۱۰۶ کډوال اژه سمندر کي ژغورلي دي. د ژغورل شویو مهاجرو کښتی د ډوبېدو له خطر سره مخ وه.




چارواکو د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي چې دغه کسان یې د شنبې په ورځ کس ټاپو ته نږدې د ترکیې ساحلي اوبو کې موندلي وو. په وینا یې کښتۍ کې سپاره ټول کډوال ژغورل شوي دي.

ژغورل شویو کې ۱۴ ښځې او ۲۰ ماشومان هم شامل دي، خو هویت یې لا نه دی څرګند.

تېرو څو وختونو زیات شمېر کډوالو له ترکیې څخه د اژې سمندر له لارې یونان ته د اوښتو هڅې کړې دي. د مارچ پر ۱۳مه نږدې سل کسان چې په یوه کښتۍ کې سپاره ول پاروس ټاپو ته نږدې وژغورل شول. همدارنګ تېره ډسمبر میاشت پاروس ټاپو ته نږدې د کښتۍ ډوبېدو پېښې ۳۱ کډوال ووژل. دغو مهاجرو غوښتل چې له ترکیې څخه ایټالیا ته ځان ورسوي.

په ورته مهال د بشري حقونو سازمانونه وایي چې ډېری وختونه یوناني پوله ساتونکي له خپلو اوبو څخه د کډوالو کښتۍ د ترکیې پر لور شړي.

د اروپایي رسنیو د یوې څېړنې له مخې یوناني پوله ساتونکو تېر سپټمبر درې کډوال وهلي ټکولي او اوبو ته یې اچولي وو. د یادو کډوالو له ډلې دوه تنه یې سمندر کې ډوب شول.

همداراز د جنوری په وروستیو ورځو کې د ترکيې د کورنیو چارو وزیر یوناني پوله ساتونکي پر دې تورن کړي وو چې دری کډوال يې چې په ناقانونه طریقه خیوس ټاپو ته رسېدلي وو د شپې له خوا اوبو ته اچولي دي .د دغو کسانو له ډلې دوو تنو يې په لامبو سره بېرته ځان ترکيې ته رسولی و، خو درېم کس بیا سمندر کې لادرکه شو.

د یادولو ده چې یونان چارواکو په وار وار دغه ادعاوې رد کړې دي. د اجین بوت سازمان د شمېرو له مخې په ۲۰۲۱ کې اژه سمندر کې د کډوالو د په شا تمبولو ۶۲۹ پېښې ثبت شوې دي .